Higher Education Weekly

شماره یکصدو نودو چهارم - سال نهم- جوزا ۱۴۰۱ هـ.ش

https://mohe.gov.af

## د کاتب خصوصي پوهنتون او د قلبي، صدري او عايي ناروغيو انستيتيوت څخه ليدنه وشوه

د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئيس، د کاتب خصوصي پوهنتون او د قلبي، صدري او عايي ناروغيو انستيتيوت څخه ليدنه وکړه .

د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئيس شيخ شاکرالله وحدت د کاتب خصوصي پوهنتون له مسؤلانو او محصلانو سره د ليدنې پر مهال، د علم د ارزښت او همدارنګه د علم د تر لاسه کولو د حکمت په اړه خبرې وکړې او په ياد پوهنتون کې يې د دعوت او ارشاد د پروګرامونو پر عملي کولو ټينګار وکړ .



همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئيس د قلبي، صدري او عايي ناروغيو انستيتيوت مسؤلانو او ډاکټرانو ته د خپلو خبرو په جريان کې له هغوی وغوښتل، چې د ناروغانو د درملنې او محصلانو د روزنې په برخه کې خپله ديني او انساني وجيبه په احسن ډول سرته ورسوي. ۷

## نشستی به منظور ارایه توضیحات در مورد اهمیت شبکه تحصیلی و تحقیقی افغانستان برگزار شد




ورکشاپ آموزشی که از سوی ریاست منابع بشری تحت عنوان « آگاهی از پروسیجر های اداری و مدیریت اسناد » برای کارمندان ریاست عمومی جامعات و تخصصات وزارت تحصیلات عالی دایر شده بود، با موفقیت خاتمه یافت.

در این ورکشاپ آموزشی ۱۲ روزه ۵۴ تن از کارمندان ریاست عمومی جامعات و تخصصات اشتراک نموده بودند که در قسمت پرو سیجر های اداری و مدیریت اسناد آموزش دیدند.

مفتی عبدالکریم امیری رئیس منابع بشری وزارت تحصیلات عالی طی سخنانی از شاملان این ورکشاپ خواست تا از آنچه که در ورکشاپ آموخته اند، در میدان عمل تطبیق و عملی نمایند.

هم چنان مولوی داود حق انی رئیس بررسی اسناد ریاست عمومی جامعات و تخصصات از ریاست منابع بشری و آموزگار ورکشاپ یاد شده تشکری نمود .

محفل با توزیع تصدیق نامه ها برای اشتراک کنندگان و دعا خیر به پایان رسید.



## د خصوصي محصلانو چارو رياست د وروستيو فعاليتونو لنډ راپور

د خصوصي محصلانو چارو رياست د شاوخوا ۱۴۰ خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو د شتون پر بنسټ؛ دا د لوړو زده کړو وزارت د رياستونو له جملې څخه يو پر کاره او کليدي رياست دی.



ياد رياست د کمو کارکوونکو په لرلو سره بيا هم هميشه هڅه کړې، چې خپل کاري مسؤليتونه په خپل وقت او ټاکلي زمان کې ترسره کړي.

د خصوصي محصلانو چارو رياست په هېواد کې د ۱.۱.۱ له حاکميت وروسته د تحصيلي بنسټونو د معياري کولو او قوانينو د تطبيق په برخو کې جدي هڅې کړې دي، چې په پايله کې يې يو شمېر بې جوازه پوهنځي او ډيپارټمنټونه چې په خپلسري ډول يې فعاليت کولو ترلي او محصلين يې هغو تحصيلي بنسټونو ته تبديل کړي، چې قانوني مشکل يې نه درلود او د فارغ التحصيل محصلينو برخليک په تړاو يې چارې دوام لري. ۷



گرانه لوستونکيه!
که تا سې غواړئ چې ستا سو ليکنې په لوړو زده کړو اونېزه کې خپرې شي، نو کولای شئ چې خپلې ليکنې، نيک نظرونه او سالم وړانديزونه په لاندې پتو را وليږئ.

خوانندگان گرانقدر!
تقاضامندیم نظریات و پیشنهادات تان را جهت بهبود نشرات این هفته نامه با ما شریک نموده و همچنان مطالب و نوشته های تان را جهت نشر در این هفته نامه از طریق ایمیل و یا به شکل مستقیم به ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه ارسال دارید.

صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: مدیرجان کوټوال
هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی
گزارشگران: کاوون رمز، محب الله اميري و قاسم جويا
تصویر بردار: احمد سیر معرفت
صفحه آرا: عنایت الله حنیفی
مصحیح: الفت الله حلیم

جمع آوری مواد هفته نامه: زمری یعقوبی
نشاني: کارته چهار, کابل افغانستان
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی
تیراژ: ۲۵۰ نسخه
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com

لوړو زده کړو اونيزه — هفته نامه تحصیلات عالی

۱۹۴ مه ګڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل – غبرګولی

https://mohe.gov.af

## معین علمی وزارت تحصیلات عالی یک تعداد پروژه های انکشافی را در پوهنتون شیخ زاید افتتاح نمود

دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی و هیئت همراه شان، ضمن نظارت از جریان آزمون بست های کادری پوهنتون شیخ زاید (خوست)، یک تعداد پروژه های انکشافی را نیز در این پوهنتون افتتاح نمودند.




در افتتاح این پروژه ها که راډیو شیخ زاید پوهنځی ژورنالیزم و ارتباطات، فارم تحقیقاتی پوهنځی زراعت، کلنیک حیوانی و پروژه شفاخانه کادری شامل می باشند، هیئت رهبری پوهنتون یاد شده، استادان، محصلان، کارمندان اداری، نمایندگان مقام ولایت خوست و نمایندگان رسانه ها حضورداشتن .

معین علمی وزارت تحصیلات عالی در جریان نظارت از پروسه آزمون بست های کادری پوهنتون متذکره، به شاملان آن در رابطه به شفافیت آزمون اطمینان داد اظهارداشت که در این امتحان امکان هیچ نوع تقلب وجود ندارد.

وی هم چنان حین افتتاح پروژه های انکشافی یاد شده در پوهنتون شیخ زاید خوست، گفت که این پروژه ها در کنار عرضه خدمات به مردم، در قسمت کار های عملی محصلان نیز موثر می باشد. موصوف اضافه نموده اظهارداشت که افتتاح شفاخانه کادری ضمن آنکه در بخش فعالیت های عملی محصلان مفید تلقی می شود، برای مردم ولایت خوست در راستای عرضه خدمات صحی و تداوی آنان نیز موثر می باشد .

## لوړو زده کړو وزارت سرپرست د افغانستان کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون له مسئولينو سره وليدل

د لوړو زده کړو سرپرست وزير الحاج مولوي عبدالباقي حقاني او ورسره مل پلاوي د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون له مسؤلينو سره وليدل.



د لوړو زده کړو سرپرست وزير الحاج مولوي عبدالباقي حقاني، کندهار ولايت ته د خپل رسمي سفر په دويمه ورځ د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون له مسؤلينو، استادانو او کارکوونکو سره د يوې غونډې په ترڅ کې وليدل.

په دې ليدنه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير الحاج مولوي عبدالباقي حقاني، د هېواد ۷

## د اوو تحصيلي بنسټونو لپاره د انټرنيټي خدمتونو تړون لاسيک شو



د لوړو زده کړو وزارت او دوو خصوصي شرکتونو ترمنځ د څه باندې درې نيم ميليونه افغانيو په ارزښت د اوو تحصيلي بنسټونو لپاره د انټرنيټي خدمتونو تړون لاسليک شو .

د ياد وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حسيب د " Telecom Development Company Afghanistan محدود المسؤليت ټيلي کام ډېلوپمنټ کمپني افغانستان" او " Afghanistan Faiz Satellite Communications " افغانستان فيض سټلايټ کميونيکيشن" شرکتونو ۷

## روی حل مشکلات لیلیه مرکزی پوهنتون کابل بحث صورت گرفت

معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی با مسؤلان پوهنتون های کابل و طبی کابل روی چگونگی حل مشکلات لیلیه مرکزی پوهنتون کابل بحث و گفتگو نمود.



در این نشست، دکتور اسامه عزیز رئیس پوهنتون کابل، پوهنیار دکتور فضل الرحمن رحمانی رئیس پوهنتون طبی کابل و معاونان مالی و اداری پوهنتون های ۷

در برگ های این شماره

2 سرلیکنه.
2 سيرت نبوی صلی الله علیه وسلم.
3 د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات.
4 سخنی با خوانندگان گرانقدر!
4 طریقه استحصال آهن
5 د میوند تدریسي روغتون له...
5 غوره ویناوي
6 تحقیق: مفاهیم اساسی
6 مثلث بر موادی شبکه های اجتماعی

## سرلیکنه

کله چې د نړۍ په یوه برخه کې یو شخص تجربه وکړي او د یوې ستونزې حل لاره راوباسي، نو هغه بیا د نړۍ ګوټ، ګوټ ته رسیږي او ټول خلک ګټه ترې اخلي. دا د علم او ساینس هغه ځانګړنه ده، چې د دنیاوي چارو په نورو برخو کې نشته.

علم، ساینس او ټکنالوژي د بشر تر منځ ګډ دي. علم قوم، پولې او نژاد نه پېژني. له همدې امله په یوه هېواد کې د علم او ساینس په برخه کې رامنځته شوي پرمختګونه نورو هېوادونو ته لېږدول شوي او د یوه شخص له تجروبو او زحمتونو څخه نور انسانان ګټه اخلي.

دغه کار انسانان علم ته هڅولي او له همدې امله همېشه د نویو علمي پرمختګونو په لټه کې وي. دغه راز که علم په یوه سیمه کې ساکن او یا په یوه شخص او سیمه پورې منحصر وای، نو نړۍ به په علمي ډګر کې د اوسمهال په شان پرمختګ نه وکړی او د یوه شخص تجربې، اختراعات او علم به د هغه له مرګ سره له منځه تلل.

د نړۍ ټولو پوهنتونونو او علمي مرکزونو ته پکار ده چې له سیاست څخه لیرې، د علم د پرمختګ او د یو بل له تجروبو څخه د ګټې اخیستنې په پار، ګډې همکارۍ وکړي. په ځانګړي ډول د دویمې او درېیمې درجې هېوادونه د لومړۍ درجې او پرمختللو هېوادونو سره په علمي ډګر کې ګډ کار او علمي څېړنو ته اړتیا لري.

د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت رهبري د نړۍ له پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره ښې اړیکې غواړي. د افغانستان د پرمختګ لپاره په علمي ډګر کې د نړۍ د تحصیلي مرکزونو تجروبو او همکاریو ته اړتیا لري او په دغه برخه کې یې د سیمې او نړۍ د تعلیمي مرکزونو همکاریو ته زمینه برابره کړې ده.

په درناوي

اداره




### رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور څخه تر غار ثور:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت په څوارلسم کال د صفرې د میاشتې په (۲۷) شپه چې د (۲۲۲) میلادي کال د سپتمبر د میاشتې له (۱۲) یا (۱۳) مې شپې سره سمون خوري، له کوره ووت او د سر او مال امین انسان حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله عنه کورته ورغی او له هغه ځای څخه د کور د شا ته دروازې دواړه ډېر په تېزۍ سره ووتل، ترڅو له سهار ختلو مخکې له مکې څخه د باندې ولاړشي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه پوهیده، چې د لټولو پوره هڅه به یې وشي او په دې هم پوهیده، چې کومه لار له مکې څخه مدینې ته د شمال په لور تللې ده، تر څارنې لاندې نیول کېږي؛ نو په دې خاطر یې د مکې څخه یمن طرف ته لار غوره کړه، چې د (اوه نیم) کیلومتره سفر وروسته د ثور غار لوړې څوکې ته ورسېدل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر الصدیق رضی الله عنه چې کله په غار کې وو:

د غار خولې ته چې ورسېدل؛ نو ابوبکر رضی الله عنه وویل: سوګند په الله جل جلاله تر هغې به ته غار ته نه داخلېږې؛ تر څو چې زه نه یم داخل شوی، زه تر تا وړاندې ننوزم که څه بلا په کې وي زه به ورسره مخ او تا به ترې وژغورم.

ابوبکرصدیق رضی الله عنه غارته داخل او د خپل لنګ په ټوټو یې د غار ټول سوري بند کړل او پاتې دوه سوریو ته یې خپلې پښې کېښودې او بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله ج رسوله مهرباني وکړئ داخل شئ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم غار ته داخل او له ستړیا څخه یې د ابوبکررضی الله عنه په غېږه کې سر کېښود او ویده شو.

ابوبکررضی الله عنه له یوه سوري څخه څه شي وچیچه او له ډېر درد څخه یې له مبارکو سترګو اوښکې راښکته او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مخ پرېوتې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: ابوبکره ولې دې له سترګو اوښکې لاړې؟

ابوبکر وویل: مور او پلار مې له تا ځار شه څه شي وچیچلم!

رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې مبارکې لاړې واچولې او روغ رمټ شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر رضی الله عنه د جمعې، شنبې او یکشنبې درې شپې په غار کې تېرې کړې.

د ابوبکر رضی الله عنه زوی عبدالله به هم د شپې له لورې غار ته ورته او یو ځای به یې شپه ورسره تېروله او هم به د ابوبکررضی الله عنه غلام عامر بن فهیرة د

ترتیب: مدیر جان کوټوال

هغوی په چاپیریال کې مېږې څرولې او د شپې ناوخته به یې هلته ور وستلې او په دې توګه به هغوی دواړو په مړه خېټه شېدې څښلې، عامر درې شپې همدې کار ته دوام ورکړ.

او هم به عامر خپلې مېږې په هغه لار وړلې، چې عبدالله بن ابي بکر به پرې مکې ته تللی و؛ تر څو هغه د پښو نښې ورکې کړي.

له بلې خوا قریش پوره لیونیان شوي وو، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وتلی دی او په ځای کې نشته؛ نو خپل قهر یې په حضرت علي رضی الله عنه ښکاره او په کش کولو یې تر کعبې بوتلو؛ ترڅو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر په هکله معلومات ترې واخلي؛ خو هېڅ معلومات یې ترلاسه نه شو کړای.

بیا د ابوبکررضی الله عنه کورته ولاړل او د کور دروازه یې ورټک - ټک کړه.

اسماء بنت ابي بکر راووتله، دوی وپوښتله پلار دې چیرې دی؟ هغې ځواب ورکړ: سوګند په الله جل جلاله نه پوهېږم، پلار به مې چیرې وي.

ابوجهل چې د بدو او سپکو اخلاقو خاوند و، لاس پورته او دومره سخته یې په مخ ووهله چې غوږ والۍ هم ورڅخه وغورځېده.

قریشو په عاجله او اضطراري غونډه کې پرېکړه وکړه، چې د دواړو د نیولو لپاره باید ټولې وسیلې په کار واچوي؛ نو مکې څخه ټولې وتلې لارې یې د کلکې وسلوالې څارنې لاندې ونیوې او اعلان یې وکړ، که هرڅوک یو له دې دواړو مړ یا ژوندی ونیسي سل(۱۰۰) اوښان به انعام ورکړل شي.

له دې خبرې اورېدو سره پیاده، سپرو او پل پېژندونکو په هلو ځلو پیل، غرونه، رغونه، ژورې او غونډۍ یې ټولې ولټولې؛ خو هېڅ یې ترلاسه نه شو کړای.

لټونکي د غار تر خولې ورسېدل؛ خو الله جل جلاله په خپلو کارونو کې پوره واکمن دی.

امام بخاري د حضرت انس له لارې له ابوبکر صدیق څخه نقلوي چې وایي:

زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په غار کې وم، چې سر مې راپورته کړ، د لټونکو پښې مې ولیدې ؛نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې وویل: که کوم یو سر لږ ټیټ کړي؛ نو مونږ به ووینې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابوبکره! موږ دوه یو درېیم مو الله جل جلاله دی.

دا د خدای ج یوه معجزه وه، چې خپل رسول ص ته یې په دې نازک وخت کې ورکړه؛ ځکه د لټوونکو او د دوی ترمنځ څو قدمه فرق وو، بیا هم ټول تش لاسونه بېرته پښېمانه ستانه شول.



### روی حل مشکلات لیلیه مرکزی پوهنتون کابل...

مذکور اشتراک نموده، در باره برخی مشکلات لیلیه مرکزی پوهنتون کابل بحث نمودند.

مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی، ضمن تأکید بر حل مشکلات محصلان، یک کمیته برای عرضه خدمات بهتر تشکیل داد.

### د خصوصي محصلانو چارو ریاست د وروستیو ...



همدارنګه د خیالي محصلینو د شتون د مخنیوي په موخه، د ازموینو ملي اداره له وړاندې د طرزالعمل په اساس توظیف شوې ، ترڅو امتحانونه له یوه واحد ادرس او د مرکزي او ولایتي پوهنتونونو استادانو په ذریعه واخلي، چې ورسره تر یوې اندازې د خیالي محصلینو مخه نیول شوې ده، البته د ازموینې سیستم د لا ښه والي او بدلون لپاره په یوه داسې میکانیزم کار روان دی، چې په تطبیق سره به یې دا مسله په جدي توګه کنټرول شي.

د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ هیئت د هدایاتو او لارښوونوپه اساس او ددې ریاست د نظارت مسؤلینو په وینا،

په تېرو ۹ میاشتو کې د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسو د تېرو کلونو په پرتله خپلو علمي پروګرامونو ته ډېره پاملرنه کړې او حساب ورکوونکې دي.

د خصوصي محصلانو چارو ریاست په منځني ډول ۱۲۱۹ ټرانسکریپټونه ، ۴۲۸۳ د کار موندنې فورمې، استعلام او مکتوبونه، ۴۲۱ ډیپلومونه او ۸۵۵ جلده د نتایجو ثبت کتابونه، طی مراحل کوي، چې د کارکوونکو د شمېر په پام کې نیولو سره دا لوی رقم یا شمیر دی.

دغه راز د خصوصي محصلانو چارو ریاست د خپلو چارو مخته وړلو ترڅنګ، د لوړو زده کړو وزارت د ګډو موخو ترلاسه کولو په هدف، د یاد وزارت له نورو ریاستونو سره همکاري کړې او په دې برخه کې به خپلې هڅې لا زیاتې کړي.

### لوړو زده کړو وزارت سرپرست د افغانستان کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون له ....

د لوړو زده کړو پر اوسني وضعیت رڼا واچوله او زیاته یې کړه: «افغانستان زموږ ګډ کور دی باید په خپله یې آباد کړو، خپل ګډ کور باید پرېنږدو، ځکه هېڅوک زموږ ګډ کور نه آبادوي».

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له هغو استادانو څخه مننه وکړه، چې په هر ډول حالاتو کې خپلو دندو کې پاتې شوي او د هېواد د بچیانو لپاره د تحصیلي پروګرامونو د ژوندي ساتلو لپاره شپه او ورځ زیار باسي او همدارنګه له هغو استادانو څخه یې د بېرته راتګ غوښتنه وکړه چې له هېواده بهر تللي دي .

الحاج حقاني د خپلو خبرو په دوام کې زیاته کړه: «افغانستان یو کرنیز هېواد دی نو لازمه ده چې په کرنه کې هم خپل مسؤلیت ادا کړو او د هېواد ځان بسیاینې ترڅنګ باید بهرنیو هېوادونو ته صادرات ولرو ترڅو ملي اقتصاد مو پیاوړی او د نورو له احتیاجه خلاص شو.»

د اناستو پوهنتون سرپرست رئیس پوهنیار ثناءالله ارغستاني د لوړو زده کړو



سرپرست وزیر او ورسره مل پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ، له نوموړي مننه وکړه چې د دې پوهنتون سره یې د ستونزو په حل کې تل مرسته کړې او هیله یې څرګنده کړه، چې لوړو زده کړو وزارت د اناستو پوهنتون سره همکاري دوامداره وساتي ترڅو نوموړی پوهنتون د هېواد په کچه د زراعتي سکتور په یو ستر څېړنیز مرکز بدل او په مختلفو څانګو کې د ماستري پروګرامونه یې پراختیا ومومي.

همدا راز په یاده غونډه کې د نوموړي پوهنتون رهبري پلاوي او استادانو د انسټو پوهنتون په اړه د لوړ زده کړو سرپرست وزیر سره خپلې غوښتنې، وړاندیزونه او ستونزې شریکې کړې، چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني له خوا یې د حل ډاډ ورکړل شو.

### د اوو تحصیلي بنسټونو لپاره د انټرنیټي خدمتونو تړون ...

مسؤلینو سره په ناسته کې، چې د قرارداد ګټونکي دي، د با کیفیته انټرنیټي خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ.

د "Telecom Development Company Afghanistan" محدود المسؤلیت ټیلي کام ډیولوپمنټ کمپنې افغانستان او د "Afghanistan Faiz Satellite Communications" افغانستان فیض سټلایټ کمیونیکېشن شرکتونو هم د قرارداد د اصولو مطابق د مناسب کیفیت او صادقانه خدمتونو وړاندې کولو ژمنه وکړه.

ټاکل شوې چې د پنجشېر، نیمروز، بادغیس، ارزګان او فراه ولایتونو تحصیلي بنسټونو کې انټرنیټي خدمتونه د " Telecom Development Company Afghanistan " شرکت لخوا او د غور او دایکندي ولایتونو په تحصیلي بنسټونه کې انټرنټي خدمتونه د افغانستان فیض سټلایټ کمیونیکېشن " Afghanistan Faiz Satellite" Communications " شرکت لخوا لاسرسی ومومي.

### معین علمی وزارت تحصیلات عالی یک تعداد پروژه های انکشافی را در پوهنتون ...

سپس انجنیر همایون رئیس پوهنتون شیخ زاید (خوست) و شمار دیگری از مسئولان این پوهنتون از افتتاح پروژه های یاد شده ابراز خرسندی نموده، وعده سپردند که از پروژه های متذکره در قسمت انجام کار های عملی محصلان و عرضه خدمات به مردم استفاده اعظمی خواهند نمود .

قابل ذکر است که به خاطر ارج گذاری از خدمات معین علمی وزارت تحصیلات عالی و رئیس پوهنتون شیخ زاید، دستار افتخار بر سر آنان توسط جوانان فعال آن ولایت گذاشته شد.

## سخنی با خوانندگان گرانقدر!

اختر محمد عبیر

عزیـز خواننـده ی هفتـه نامـه تحصـیلات عـالی السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

جای نهایت سرور و افتخـار است کـه از سـر لطـف و رضـای خداونـد منـان بـه وسیله این صـفحات بـا شما در ارتباط قـرار گـرفتیم البتـه علاقمنـدی شـما نسـبت بـه ایـن نشـریه و حسـن معاونـت دوسـتان بـاور هـای مـا را بـرای رسـیدن بـه اهـداف متوقعـه مبنـی بـر تقویـت تحصـیلات عـالی کشـور و تبـادل افکار و مراوده در کار رسانه یی قوت می بخشد.

خواننده نهایت گرامی!

هفتـه نامـه حاضـر کـه بـا امکانـات محـدود بـه اثـر تـلاش همکـاران ریاسـت نشـرات وزارت تحصـیلات عـالی نشـر میگـردد، زمـانی موثریـت و مثمریـت آن هویدا خواهد شد که قلم بـه دسـتان و علاقـه منـدان چون شـما عـزم خـویش را جـزم کـرده و هرکـی بـه نوبـه و تـوان خـویش در راه غنامنـدی برگـه هـای این نشریه ادای دَین نمایید.

از آن جا که همـه میـدانیم شـرایط کنـونی کشـور بـا مشکلات عدیـده ای دسـت و گریبـان اسـت و حـوزه تحصـیلات عـالی نیـز بـه نحـوی درگیـر چنـین مشکلات اسـت و بـدون شـک کـه اعضـای خـانواده تحصـیلات عـالی نیـز از اضـرار چـالش هـا و مشکلات آن بی نصیب نمانـده انـد، امـا دسـت زیـر الاشـه نشسـتن و رسـالت قلمـی خـود را ادا نکـردن چیزی جز رکود و قطـع روابـط نصیب مـان نخواهـد کـرد و اوقـات پربـار خـویش را کـه بـرای ایـن مسـؤولیت شـریف و خـدمت بـرای مـردم خـویش مختص نموده ایم به هدر خواهیم داد.

ایـن یـک واقعیـت اسـت کـه فعالیـت هـای وزارت تحصـیلات عـالی در بعُـد نشـراتی و تبلیغـاتی مـی توانـد تـاثیرات شـگرفی را در اذهـان عامـه، بـه ویـژه محیط اکادمیک کشور ببـار آرد کـه بـه یقـین بـالای ابعاد تطبیقی سایر برنامه هـا در ایـن حـوزه نیـز تـاثیر گذار خواهد بود.

به باور ما این امـر زمـانی بـه نتیجـه مطلـوب خواهـد انجامید کـه مسـیر آگـاهی دهـی و ارایـه معلومـات و ارقام در این نشـریه صـادقانه و عادلانـه انجـام شـود و هفته نامه تحصـیلات عـالی بتوانـد وظیفـه خـویش را منحیث پل ارتبـاط میـان مـردم، جامعـه اکادمیـک و مسؤولان امور بخوبی پیش ببرد.

دوستان عزیز!

دست اندرکاران ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه وزارت تحصیلات عالی در هماهنگی باهمکاران قلمی خویش و تحت هدایات هیأت رهبری این وزارت در تلاش اند تا با ایجاد فضای همفکری، اعتماد متقابل و همدیگر پذیری در جهت تطبیق برنامه های وزارت تحصـیلات عالی مطابق قوانین و مقررات نافذه و پالیسـی امارت ا سلامی افغانستان، فضای باهمی و روابط حسنه را برای پیشرفت و ایجاد امکانات بهتر محیط اکادمیک فراهم سازند .

رشد فکری قشر محصلان، صنف استادان، شناخت استعداد های جوان و خلاق، تبادل افکار، ایجاد فضـای تحصـیلی معیاری مجهز با ارزش های دین مقدس اسـلام، تقویت فعالیت های علمی و فرهنگی، کمک برای ایجاد بهترین راهکار ها برای تقویت تحصیلات عالی، ایجاد فضای اعتماد و همدلی، ایجاد راه های حل برای بیرون رفت از مشکلات و بن بست های کنونی، شناخت بهتر از یکدیگر، ایجاد و تقویت انگیزه برای کار مشترک و حرکت دلسوزانه در راه پیشرفت علم و معرفت در کشور از اهداف اساسی این نشریه است .

انتظـار مـا ایـن اسـت کـه مخاطبـان اصـلی هفتـه نامـه تحصـیلات عـالی کـه عمـدتاً مسـؤولان، اسـتادان و محصـلان ایـن عرصـه را تشـکیل میدهنـد، در همکـاری با غنـی سـازی مـواد و محتـوای ایـن هفتـه نامـه بـه مـا بپیوندند و ما را یـاری رسـانند، زیـرا بـا درک ایـن واقعیـت که کشور مـا بـا نیرنـگ هـای کشـور هـای آزمنـد عقـب نگهداشته شده است و اینـک کـه پـس از پیـروزی امـارت اسـلامی افغانسـتان و شکسـت متجـاوزین، دوبـاره صـاحب اسـتقلال و خـود مختـاری شـده اسـت برماسـت تا دست بـه کـار شـویم و شـانه بـه شـانه یکـدیگر در راه اعتلاء میهن عزیـز خـویش بکوشـیم تـا مـردم مـا آرام و خداوند منان از ما راضی باشد.

گفتنی ما به شـما خواننـده گرامـی ایـن اسـت کـه هرقـدر نشـریه حاضـر بـر وفـق مـراد صـنف مخاطـب، غنامنـدی حاصل نماید و نشر پیـام هـای ایـن نشـریه وسـعت یابـد؛ امتیاز آن بـر مـی گـردد بـه همهٔ مـا کـه توانسـته ایـم دسـت بدسـت و شـانه بـه شـانه هـم در راه پیشـرفت تحصـیلات عـالی کشـور سـهمی را ادا کنـیم. هرگـاه بـا ایـن حرکـت خـویش بتـوانیم یـک هفتـه نامهٔ معتبـر و ارزشـمند را عرضـه نمـاییم کـه انعکـاس دهنـده صـدای همـه صـاحبنظران، دانشـمندان و نخبـه گـان تحصـیلات عـالی باشـد و هـر عضـو ایـن خـانواده اعـم از اسـتاد، محصـل و کارمنـد خـودش را در ایـن آیینـه بنگـرد و در بهبـود وضـعیت تحصـیلات عـالی از ایـن دریچـه نقـش ایفا نماید، قـادر خـواهیم بـود تـا ارتباطـات همگـانی را در این حـوزه تـامین و نیـروی مشـترک، خـلاق و بـا ایمـان در عرصه رشد علم و دانش در کشور داشته باشیم.

پـس بیاییـد مـا را در ایـن عرصـه یـاری رسـانید و هفتـه نامه خود تان را تقویت کنید!


خدایا تو آن کن که پایان کار تو خشنود باشی و ما رستگار

ومن الله التوفیق

## طریقه استحصال آهن

پوهنوال لیلا «قادری»

روش تـازه تـری تاحـدی امـروزه جانشـین روش بسـمر شـده اسـت درایـن روش از سیسـتم کـوره باقلـب بـاز ( open heart furnace) اسـتفاده میشـود شـکل ذیـل کـف ودیـواری ایـن تبدیل کننده از مـواد قلـوی دیرسـوز مانند $MgO$ و $CaO$ پوشـیده شـده و آن را بـا آهـن ناخـالص خـارج شـده از کـوره بلنـد و $Fe_2O_3$ وبـلا خـره سنگ آهک ($CaCO_3$) پر می کنند.




هـوای بسـیار گـرم ومخلـوطی از گـازات گـرم رابـرروی ایـن مـواد عبـور مـی دهنـد تامجموعـه بـه صـورت مـذاب درآیـد . درایـن حـال اکسـاید هابـا $CaO$ حاصـل از تجزیـه سـنگ آهـک ترکیـب مـی شـود ناخالصـیهای آهـن بـه وسـیله $Fe_2O_3$ اکساید مـی شـوند وکـاربن موجـود درآهـن ناخـالص مبـدل بـه کـاربن دای اکسـاید شـده وبـه صـورت حبـاب از سـطح مـاده مـذاب خـارج مـی شـوند ونیـز پوشش ناسوزکف کـوره بـا ناخالیصـهای دیگـر آهـن ترکیب شده وبه صورت گـدازه هـای سـبک بـرروی آهن مذاب قـرار مـی گیرنـد. ایـن روش طـولانی تـر از روش قبلـی اسـت ۸ تـا ۱۰ سـاعت طـول مـی کشد . ولـی کیفیـت فـولاد بهتـر اسـت ونیـز درحـین عمل با نمونه برداری مـی تـوان خـالص بـودن آهـن راکنتـرول نمـود کنـدی عمـل را میتـوان بـا افـزایش حجم مواد جبـران کـرد. مـثلاً درهرپخـت (۲۰۰) تـن آهـن خـالص بـه دسـت آورد واز طـرف دیگـر بـا غلظت مشخص مـی تـوان عناصـر دیگـر از قبیلـی Co , Cr , Ni ,V و W تنگسـتن را نیـز در ضمن عمل اضافه نمـود و بـه ایـن ترتیـب الیـاژی از فولاد بـا نسـبت در صـد مشـخص تهیـه کـرد. یـک نمونـه از فـولاد ضـدزنگ Stainless Steel کـه اسـت کـه متشـکل از ۷۲ درصـد آهـن ، ۱۹ درصد کروم و ۹ درصد نیکل است.



## د قیامت په ورځ د بدلمنو انسانانو بدبويي

را ټولوونکی: فرحت الله مزمل

امام سیوطي رحمه الله په خپل کتاب (لبدور السـافرة، ۱۵۹ مخ) کې د ابن ابی الدنیا په حواله دحضـرت علي رضـی الله عنه لاندې روايت را اخيستی دی:

(دقیـامـت پـه ورځ بـه پر خلکو بـانـدې یوه داسـې بدبویه توږم (هوا) را والوځي چې له بـد بویـه بـه یې نېك عملـه او بـدعملـه ټول چيغې کړي، کله چې هغه په بشـپړ ډول خپره شـي نو یو آواز کوونکی به غږ کړي چې ټول بـه یې اوري: (د کومې بـدبويي لـه امله چې تاسې ټول په عذاب يئ پوهېږئ؟

چې دا دځه شي بدبويي ده؟

خلك به ووايي چې نه! بيا به دوی ته وويل شـي دادهغو بدلمنو انسـانانو د عورتونو بدبويي ده چې د بدلمنی په ګناه اخته مړه شوي دي اوتوبه يې ابستلې نه ده، بيابه دغه توږم ورك شـي، څو پورې چې دغه بدبويي وي نه به دچا جنت په ياد وي اونه هم دوزخ.

## غوره ویناوې!

راټولونکی: ناصر خان شېرزی

د حضرت لقمان حکیم رحمهٔ الله علیه نصیحتونه!

۱. پـه خپلـه نېکـي کـوئ او نـورو تـه هـم د نېکـۍ تلقین کوئ!
۲. پـه کـوم نعمـت چـې شـکر وویسـتل شـي، د هغـه نعمـت پـای نشـته او پـه کـوم نعمـت چـې ناشکري وشي، د هغه نعمت پايښت نشته.
۳. خپله ښېګڼه او د بل بد ګڼه هېره کړئ!
۴. ډېر اورئ او لږ غږېږئ!
۵. په خېټه وږي ، خو په حکمت ماړه اوسئ!
۶. الله جل جلاله او مرګ هېڅکله له یاده مه باسئ!
۷. رښـتیا خبـره مـه پټـوئ او دروا‌غ خبـره لـه سـره کوئ مه!
۸. پـه هـر مجلـس کـې، چـې د الله جـل جلالـه ذکـر کېـږي ګـډون پـه کـې کـوئ او د بـدو ملګـرو لـه ناستې څخه ځان لیرې وساتئ!
۹. له پوهانو سره ناسته ولاړه غوره کړئ ، دا کار په ستونزو کې له تاسې سره مرسته کولای شي.
۱۰. د هغـه مقـام پـه انـدازه عمـل وکـړه ، چـې پـه قیامـت کـې یې د ځـان لـه پـاره غـواړې؛ ځکـه چـې هـر څـو ک غـواړي پـه آخـرت کـې یې تـر ټولـو لـوړ مقـام وي ؛ نـو ځکـه د لـوړ مقـام تـر لاسـه کولـو لـه پـاره پرلپسـې هڅـو او زیـات زحمت ته اړتیا ده

## د میوند روغتون له رئیس ډاکټر نورستان شینواري سره ځانګړې مرکه

مرکه کوونکی: محمد اسلم اسلم



د لـوړو زده کـړو وزارت د اونیزې قدرمندو لوسـتونکو د مرکو پـه لړۍ کې مو دا ځل د میونـد تـدریسـي روغتون لـه رئیس ډاکټر نورستان شینواري سره مرکه کړې ده، هیله ده چې مرکه له پیله تر پای ولولئ!

پوښـتنه : قـدرمن شـینواری صیب که د مهربانۍ له مخې د اونیزې لوستونکو ته خپل ځان معرفي کړئ.

ځواب : نوم مې نورستان تخلص شینواری کوم، اصـلاً د ننګرهـار ولایـت د شـینوارو اچین ولسوالۍ اوسیدونکی یم، د ننګرهار پوهنتون له طب پوهنځي څخه فارغ شوی یم او فی الحال د میوند تدریسـي روغتون د رئیس او خادم په توګه دنده اجرا کوم.

پوښـتنه : شـینواری صیب له دې وړاندې مو کومې کومې دندې اجرا کړې دي، که په دې اړه زمونږ لوستونکو ته معلومات ورکړئ؟

ـــ د ښـوونځي له فراغت وروسـته مې په یو شمېر ښوونیزو مرکزونو کې د ا ستاذ په صفت دنده اجرا کړې ده ، د پوهنتون په دوران کې مې هم د ښـوونیزو مرکزونو د استاذ په حیث دنده اجرا کړې ده، پـه مسـلکي برخـه کې مې د ننګرهار ولایت په مختلفو طبي انسټېټیوټونو کې د استاذۍ مقدسه دنده اجرا کړې ده، چې له جملې څخه یې د سـید جمالدین افغان، غازي امان الله خان او امام غزالي یادولای شم.

پو ښتنه : پو ښتنه : قدرمن شینواری صیب کله چې د روغتون د ریاست چارې دروسپارل شوې له هغه وخت نه مموتراوســه څومره فعالیتونه اجرا کړې دي.

ــ کله چې دا درونـد مسؤلیت را تر غاړې شو؛ نو ما او جمع زما ټول کاري ټیم په کارونو کې د لا ښـه والي لپاره هڅې ګړندۍ کړې، مریضـانو تـه مو پـه تـداوۍ او نـورو برخـو کې لازمې اسـانتیاوې مهیه او برابرې کړې، د اداري او اخلاقي فسـاد مخنیوی مو په منظم او اساسـي شـکل وکـړ، سـتیاژارانو ته مو په د نظري او عـملي زده کـړو زمینـه پراخـه کـړه او لا هم د روغتون ټولو برخو ته ځانګړې پاملرنه کوو.

پوښـتنه : که په دې اړه هم زمونږ لوسـتونکو ته معلومات ورکړئ، چې میوند تدریسي روغتون په کومو برخو کې د رنځورو هېواد والو چوپړ کوي؟

ـ میوند تدریسي روغتون د ماشومانو داخله، د ماشومانو جراحي، غوږ، پزې او ستوني او د پوسـتکي پلاسـتیک په برخه کې د رنځورو هېواد والو منظم طبي چوپړ کوي .

پوښـتنه : دا چې میوند تدریسـي روغتون د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لانـدې فعـالیت کوي او دلته عملا ډاکټر صاحبان روزل کېږي، په اوس وخت کې څومره سیتاژران لرئ؟

ــ وړاندې چې ما د کومو څانګو ذکر وکړ، په دغو څانګو په لسـګونه محصـلین د کادري اسـتـاذانو لـه لورې پـه عملي برخو کې روزل کېږي او له عملي زده کړو وروسته بیا د هېواد په بېلابېلو روغتونونو او صحي مراکزو کې د هېواد والو خدمت کوي.

پوښتنه : شینواری صیب وروستۍ خبرې به مو د پیغام په ډول مریضانو، د مریضانو پایوزانو او په کل کې ټولو هېواد والو ته څه وي؟

ـ ناروغانو ته مې دا پیغام دی، چې د ډاکټر د لارښـوونې سـره سـم خپل دارو تطبیق کړي، پایوزانو ته دومره وایم، چې کوشـش وکړئ، کوم وخت دوی لپـاره ځانګړی شـوی دی په هماغه وخت دې د خپل مریض پوښتنه وکړي او په ټوله کې مې ګرانو هېواد والو ته دا پیغام دی چې د خپل صـحت خیال وساتي، تر څو د روغتون له ور تګ او ډاکټر ته د معاینې لپاره اړ نشي.

شـینواری صاحب ډېره ډېره مننه چې وخت مو راکړ او مرکه مو وکړه!

شماره یکصدو نودو چهارم- سال نهم- جوزا ۱۴۰۱ هـ.ش

## تحقیق: مفاهیم اساسی

غ.د. خاورین

**تحصلات عـالی در قبـال انتقـال دانـش بـه محصـلان و گسـترش دانـش و عرضـهٔ خـدمات، و ظیفـهٔ مبرم تـر دیگـری را بـه عهـده دارد کـه آن تولیـد دانـش از راه تحقیقـات علمـی و مـنظم اسـت. ایـن بخش کار در عصر حاضر روز به روز بـارزتر و بـا اهمیـت تـر شـده میـرود. بنـابر ارزش آن ایـن سـتون بـه نگـارش یافتـه هـا و تحلیـل هـا در زمینـهٔ تحقیـق اختصـاص داده شـده اسـت. توقـع میـرود تـا دانشمندان و خبره گان ما در تداوم آن سهم فعال بگیرند.**

**۱: مقدمه**

تمام تلاشـهای موجودات زندهٔ روی زمین به دو مقصـد خلاصـه میشـود: ۱) تلاش برای بقای نفس ۲) تلاش برای بقای نسـل. اما تلاش انسـان بنابر داشـتن قدرت تفکر انتزاعی، از این محدوده فراتر میرود و آن تلاش برای دریافت حقایق و رسیدن به چشمهٔ معرفت است. انسان فطرتاً علاقه مند است تا به حقیقت اشیا و پدیده ها پی ببرد تا بر مبنای آن تصـمیم بگیرد. در یک نگاه اجمالی در می یابیم که در کل انسـانها به دو شـیوه تصمیم میگیرند؛ یکی به اساس گمان و خواسته های نفس (نفس اماره ) و دیگر بر مبنای عقل و تدبیر.
به اسـاس تعلیمات اسـلامی نفس اماره حربه و وسـیلهٔ شیطان است و به اساس گمان هم نمیتوان به حقیقت راه یافت؛ اما عقل اسـت که با تدبیر انسـان را به جادهٔ حقیقت رهنمون میشود. (هرگاه انسان در تصامیم خود به خاطر اعمالی که انجام میدهد، از تدبیری بر مبنای فیصـلهٔ عقل کار نگیرد و برخلاف آن به کام نفس فرو رود و یا به گمان متوسل شود، فرجام کار او جز حسرت چیزی دیگری در قبال نخواهد داشـت). پس برای نیل به حقیقت باید با فعالیتهای عقلانی و اصـول تدبیر آشـنایی پیدا کنیم. نخسـتین وظیفهٔ عقل آن اسـت تا امیال نفسـانی را تحت کنترول در آورد تا انسـان گمراه نشود. دومین وظیفهٔ آن این است تا به مدد آن شخص بتواند اهداف فعالیتهای خود را درسـت تعیین کند. سومین وظیفهٔ عقل نشاندهی راه و روش درست برای دستیابی به اهداف مشخص شده میباشد.
در معارف اسلامی دو راه برای رسیدن به حقیقت وجود دارد: نخستین راه همانا وحی الهی است که راه مستقیم برای نیل به حقیقت پنداشته میشود. راه دوم کوششهای انسـانی بر مبنای فعالیت عقلانی اش میباشـد. این کوششها مستلزم نظم، دقت، صبر، استقامت، پیگیری شـبکهٔ اطلاعات میباشـد. این شـیوه مانند راه رفتن کودکان اسـت. از زمانی که کودک راه رفتن را فرا میگیرد و سـپس با گامهای کودکانه خود را به هدف میرساند، شاید چند بار بافتد؛ تا این که در نتیجهٔ تمرین و ممارثت خطر سـقوط و افتادن او کاهش یابد و گامهایش اسـتوارتر گردد؛ اما در هر حال به دقت و هوشـیاری نیاز دارد. این راه به وسـیلهٔ تحقیق پیموده میشود. به هرحال در نتیجهٔ تحقیق بخشی از حقیقت به دسـت می آید نه کل حقیقت! بنابران محقق باید آنچه را که در نتیجهٔ تحقیق دریافته اسـت پرتوی از حقیقت بداند و از آن برای دریافت حقیقت بزرگتر بهره گیرد.
کنجکاوی برای دریافت حقیقت عطش بی پایان اولاد آدم است. بشر از ابتدای خلقت خود در جستجوی کشف حقایق اشـیا و پدیده ها بوده و همین کنجکاوی برای دریافت حقیقت بخشـی از غریزهٔ او را تشـکیل میدهد. برای شناخت هر مجهولی، سوالی به ذهنش خطور کرده و سپس حسب فراست و تجربهٔ خود به دریافت جواب آن مبادرت کرده اسـت. گاه در این راه در بند اوهام و خرافات افتاده و خود را با آن به نحوی قانع ساخته است و گاهی با اسلوب علمی به کنه حقیقت اشیا و پدیده ها راه یافته است. همین روحیهٔ کنجکاوی و عطش انسان برای کشـف حقایق پایه و اسـاس تحقیق را تشـکیل میدهد. شناخت اکثر پدیده ها و تبدیل شدن آن از حالت مجهول به معلوم ثمرهٔ همین کنجکاوی هاسـت . امروز بشر در نتیجهٔ تحقیقات علمی، موفق به کشف بسا پدیده هایی گردیده اسـت که زمانی از مجهولات به شـمار میرفت و در هالهٔ خرافات پیچیده شـده بود. در نتیجهٔ دستیابی به اسلوب و شیوه های نوین و علمی تحقیق واضح و حقیقی تری از جهان ارایه میشود.

## مثلث برموداى شبکه های اجتماعی

عبدالطیف آرش

اگر کار مهم و بسیار ضروری نداشته باشیم، تاجایی پیگیر شبکه های مجازی هستیم که خسته شویم، چشمان ما بسوزد و گردن درد بگیریم، حرف زدن از عدم حضور در فضاهای مجازی، اگر غیر ممکن نباشد بسیار سخت است.
شبکه های اجتماعی مثل شمشیر دو لبه است، اگر از یک طرف معلومات مفید و مسایل مهم روز در آن به نشر می رسد از سوی دیگر باعث ضیاع و اتلاف وقت بیش ازحد کاربران می گردد.
یکی از دوسـتانم که کارمند یکی از وزارت های سکتوری است برایم گفت که ساعت یازده بجه شب وارد شبکه اجتماعی فیسبوک گردیدم و مشاهده کردم که اکثر کارمندان وزارت "انلاین" بودند که در میان آن ها یکی از معینان وزارت نیز شـامل بود، در ابتدا فکر کردم که شـاید "دیتا" موبایل این معین سـهواً روشن مانده باشد، اما حس کنجکاوی ام باعث شد که برایش یک پیام ارسـال کنم که بلافاصـله از سـوی معین یاد شده جواب پیامم داده شد.
اگر شما محصل پوهنتون خصوصی و یا دولتی باشید، زمانی که شب هنگام وارد شبکه اجتماعی فیسبوک می شـوید متوجه می گردید که از اسـاتید گرفته تا کارمندان اداری و از محافظین امنیتی تا رئیس پوهنتون همه "انلاین" هسـتند و این مسـأله برای معلمین و متعلمین مکاتب نیزصادق است.
شـبکه های اجتماعی"فیسـبوک، تویتر و انسـتاگرام" درافغانستان درپهلوی این که باعث ضیاع وقت کاربران می گردد منبع مهم برای اخبار جعلی، نفرت پراگنی قومی، مذهبی و حزبی می باشد در فضای سیاست زده افغانستان بیشـترین ادبیات نفرت در همین شـبکه های اجتماعی تولید و پخش می گردد.
از سـوی دیگـر بعضـی از جوانـان"دختـر و پسـر" ازطریـق همـین شـبکه هـای اجتمـاعی پیـام هـای مسـتهجن"صـوتی، تصـویری و نوشـتاری" بـه یـک و دیگر مـی فرسـتند. پرسـه زدن بـیش از حـد محصـلان درایـن شـبکه هـا باعـث شـده تـا آن هـا وقـت کـافی برای مطالعـه نداشـته باشـند و سـطح سـواد ایـن افـراد جامعه با گذشت هر روز پایین آمده برود.
سوال اساسی این است که چطور می توانیم زمان حضور خویش را در شبکه های اجتماعی تنظیم کنیم و با استفاده موثر از شـبکه های اجتماعی از ضـیاع وقت خویش جلوگیری کنیم دراین قسـمت راهکارهای مختلف وجود دارد.



راهکار اول:بازه زمانی حضورتان را در شبکه های اجتماعی مشخص کنید.(یا صبح ویاهم شام حضور پیدا کنید)
راهکار دوم : پیش از چرخ زدن در شبکه های اجتماعی، میزان زمان حضور تان را با نصب زمان سنج بدانید.
راهکار سوم: در زمان های مرده روزتان در شبکه های اجتماعی چرخ بزنید.
راهکارچهارم: روزه مجازی بگیرید.
راهکار پنجم: جایگزین داشته باشید مطالعه، ورزش ویاهم یک سرگرمی مفید دیگر(سید مجتبی حسینی نیا، ۱۳۹۷، ۲۷)

منابع
مجله ها، مجله موفقیت، روزنامه ها، هشـت صـبح، اطلاعات روز، سایت ها و سایت بی بی سی فارسی



۱۹۴مه ګڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل - غبرګولی

## د اسلامي حاكمانو، اخلاق او صفات

ليكوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

### پاچا او حاكم ته په ژمنې د وفا ضرورت!

پاچا او حاكم دې ته ضـرورت لري، چې په كړو ژمنو وفا وكړي.
امام ماوردي رحمه الله ليكلي دي: د وخت پاچا او حاكم دې په دې پوه شي، چې د ده د دولت بنسټ په ژمنو باندې وفا كول دي؛ ځكه چې تګي او له ژمنو څخه مخ اړول د ټولو خلكو پـه حق كې يو ناوړه او مضـر عمل دى؛ خو دا د پاچاهانو او حاكمانو په حق كې ډېر ناوړه او ضـرر ناک عمل دى؛ ځكه د هر پاچا او حاكم پـه تړاو، چې د خلكو دا انګېرنه وي، چې دا پـه كړې ژمنه وفا نه كوي، د وينا او عمل ترمنځ يې يو والى نشته او د وعدې په ماتولو مشهور شي؛ نو ده ته د خلكو ليوالتيا لږه او كركه ترې زياته شي.


**په كړو ژمنو د وفا فايدې**

كله، چې د وخت حاكم په كړو ژمنو وفا وكړي؛ نو دا ډېرې ګټې لري.
علامه صـالح ملوحي يې يو شـمېر ګټې په لاندې ډول ذكر كړې دي:

۱. كه چا د الله تعالى سره په كړې ژمنه وفا وكړه، چې د الله تعالى په توحيد به عقيده ساتي او يواځې د الله تعالى بندګي بـه كوي؛ نو الله تعالى به په خپله ژمنه وفا وكړي او ده ته به د اطاعت توفيق وركړي او د عبادت اسباب به ورته برابر كړي.
۲. وفا د اسـلامي ټولنې په جوړښـت كې يو اسـاسـي صـفـت دى؛ ځكـه چې دا ټولو معاملاتو ته شـاملېږي؛ كه ټول معاملات او خپل منځي چلن وشـړيږي؛ نو هر وخت، چې وفا له منځه ولاړه شي؛ نو د خلكو ترمنځ باور ختمېږي، خپل منځي چلن وشـړيږي او يو تر بله سره د كركې عادت جوړ شي.

### ۱۲ـ د حق تابعداري كول

د وخت حاكم او مشـر به د حق طرفدار او تابعدار وي.
په حديث شريف كې ذكر دي: نبي كريم صلى الله علسلمو ته يو بندي راوستل شو، هغه بندي وويل : چې اى الله! زه تا ته توبه اوباسم او محمد صلى الله عليه و سلم ته توبه نه اوباسم، نبي كريم صـلى الله عليه وسـلم وفرمايل: دې بندي حقدار وپېژاند او حق يې خپل حقدار ته حواله كړ (يعني




يواځې الله تعالى د دې حقدار دى، چې ده تـه توبه ووستل شي . (
د حضرت عمر رضي الله عنه اثر:
دوهم خليفه حضـرت عمر رضـي الله عنه ويلي دي: پـه هغه امير او حاكم كې هيڅ خير نشـتـه، چې د ده پـه وړاندې حق نه ويل كېږي او نه دا پخپله حق وايي.
حضـرت عمر رضـي الله عنه خپلو چارواكو ته داسې ليكلي دي: خلک د خپل ځان په وړاندې حق كې سره برابر كړئ: د خلكو نه نږدې به تاسو ته داسې وي لكه لرې او د دوى نه لرې به تاسو ته داسې وي لكه نږدې ( يعنې د دوي نږدې او لرې به تاسـو ته د حق په مقابل كې برابر وي، حقدار ته به حق وركوئ هغه كه هر څوک هم وي.(
حضـرت عمر رضـي الله عنه حضـرت معاويه بن ابي سفيان رضي الله عنه ته وليكل:
ته د حق سره پيوسـتون غوره كړه، چې حق به تا ته د اهل حقو مراتب واضـح كړي او يواځې په حق پرېكړه كوه، والسلام.
علامه ظافر قاسـمي دا موضـوع په دې ډول واضحه كړې ده:
په تحقيق سـره يوه طبقه خلک په منصـب او نفسـي غوښـتنې باندې د حق اتباع ته ترجيح وركوي او د امير حكم، چې كله د حق مخالف وي؛ نو نه يې منـي، كه څه هم امير د ده ورور وي.
كندي روايت كړى دى، چې هشام بن عبدالملک رحمه الله خپل ورور محمد رحمه الله د مصـر حاكم مقرر كړ، محمد رحمه الله ورته وويل: زه د مصـر مشـري قبلوم؛ خو په دې شـرط چې كه تـه مـاتـه د حق پـه خلاف حكم وكړې؛ نو زه بـه يې پرېږدم او ستا حكم به نه عملي كوم، هشام رحمه الله ورته وويل: ستا لپاره دا اختيار شته او شرط يې ورسـره ومانه، محمد رحمه الله يوه مياشـت د مصر حكومت وكړ او يوه مياشت وروسته ورته د ورور لخوا داسې مكتوبي حكم راغى، چې د ده د شرط مخالب وو او خوښ يې نه شو؛ نو د مصر د مشرۍ كار يې پرېښود او خپل وطن (ريسون) ته راغى. ده ته خپل ورور هشام خط راولېږه، چې ته د ريسون سيمې لپاره ولې د مصر په شان مشري پرېږدې؟ دا خو د افسـوس خبره ده، ته به يوه ورځ پخپله پوه شې، چې ستا لپاره سـتا كوم تجارت مهم دى ( د مصـر مشـري او كه د مصـر مشـري پرېښـودل او په خپل وطن كې اوسـېدل)؟ محمد رحمه الله ورته ځواب كې وليكل: ما ته په دې كې هيڅ شـک نشـتـه هغه څه، چې ما وكړل دا ګټور تجارت دى په نسبت د هغه، چې ما د حق په مقابل كې د مصر حكومت ته ترجيح وركړې واى.
د محمـد رحمـه اللّه لـه خـوا د حـق د تابعـدارۍ پـه مقابـل كـې د مصـر حكومـت پرېښـودل او د خپـل نسـبي ورور حكـم مـاتول د حاكمـانو لپـاره د عبـرت لـوى درس دى څـوک، چـې د خپـل منصـب د بقـا لپـاره د وخـت د حـاكم هـر حكـم منـي او كوشـش كـوي پـه هـره بيـه وي خپـل مشـر راضـي وسـاتي او د الله تعـالى او د هغـه د رسـول صـلى الله عليـه وسـلم د رضـا پـه مقابـل كـې د خپـل حـاكم او اميـر خوشـحالۍ تـه تـرجيح وركـړي، پـه نتيجـه كـې د غټـو ټولنيزو تاوانونو لامل ګرځي.
علامـه ابـن حبـان رحمـه الله ليكلـي دي: سـلطنت او مشـري پـه حقيقـت كـې د حـق وينـا او پـه عـدل عمـل كـول دي، نـه پـه دنيـا كـې د مـال لګـول او يـو پـر بـل فخـر كـول. همـدا راز د يمـن د پاچاهـانو نـه يـو پاچـا خپـل ځـاى ناسـتي تـه داسـې وصـيت وكـړ: تـه بـه يـواځې پـه حـق باندې عمل كوې.

**۱۳ـــ علـم او د وينـا ملكـه (پوهـه) لـرل پـه راتلونكې ګڼه كې...**